


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا

د نشر نېټه : ۱۱ جنورى ۲۰۱۳م

# د خواشينى پيغام



په ډېرې خواشينى سره مو خبر ترلاسه کړ چې د پکتيا ولايت اوسيدونکى تکړه خبريال محمد ضيا ارمان عمري له دې تل پاتې نړۍ سترګي پټې کړې.
اروابناد محمد ضيا ارمان عمري د طالبانو د حکومت له نسکوريدو را په ديخوا يې د مرګ تر سلګى پورې د افغانستان شريف ولس ته د ژورناليزم د سپيڅلې دندې له لوري د خدمت متې را بډ وهلې وې.

اروابښاد ارمان عمري د پکتیا غږ راډیو،اونیزې او ویب پاڼې او همدا ډول د جګړ اونیزې د مشر په توګه پاتې شوی دی چې یوه اونۍ وړاندې یې په پکتیا کې د خپلو هلو ځلو په برکت د ښځو غږ راډیو هم پرانیستله . اروابښاد ارمان عمري نن سهار د جمعې په مبارکه ورځ د زړه دټکان له امله ساه ورکړه.
د لویې پکتیا فرهنګي او خپرندویه ټولنه د اروابښاد ارمان عمري مړینه د ژورنالیزم په ډګر کې یوه لویه تشه ګڼي او د بیان د ازادۍ د لارویانو په ټولي کې د تشې احساس کوي اروابښاد ته د لوی خدای ج په دربارکې د جنت فردوس غوښتنه کوي او کورنۍ ته یې د جمیل صبر غوښتنه کوي او د افغانستان له حکومت غواړي چې د اروابښاد محمد ضیا ارمان عمري په نوم یو علمي مرکزو نوموي.

روح یې ښاد او یاد یې تل تازه لرې

د لویې پکتیا فرهنګي او خپرندویه ټولنې مشر

فرید احمد « تسکین »

******

## د پکتیا میډیا سنټر د خواشینۍ پیغام

پە ډېرې خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د پکتیا ولایت تکړه خبریال محمد ضیا ارمان عمري له دې تل پاتې نړۍ سترګې پټې کړې.
اروابښاد محمد ضیا ارمان عمري د طالبانو د حکومت له نسکوریدو را په دیخوا یې د مرګ تر سلګۍ پورې د افغانستان شریف ولس ته د ژورنالیزم د سپېڅلې دندې له لارې د بیان ازادۍ لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ـ ځلې کړې دي. اروابښاد ارمان عمري د پکتیا غږ راډیو،اونیزې او ویب پاڼې او همدا ډول د جګړ اونیزې د مشر په توګه پاتې شوی دی نوموړي یوه اونۍ وړاندې په پکتیا کې د خپلو هلو ځلو په برکت د ښځو غږ راډیو هم پرانیستله . اروابښاد ارمان عمري نن سهار د جمعې په مبارکه ورځ د زړه دټکان له امله ساه ورکړه.
د پکتیا میډیا سنټر اداره او د پکتیا خبریالان د اروا ښاد ارمان عمري مړینه د ژورنالیزم په ډګر کې یوه لویه تشه ګڼي او د بیان د ازادۍ د لارویانو په ټولي کې د تشې احساس کوي. اروابښاد ارمان عمري ته د لوی خدای ج په دربارکې د جنت فردوس او کورنۍ ته یې د جمیل صبر غوښتنه کوي .

روح یې ښاد لرې

د پکتیا میډیا سنټر اداره

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند ځرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است